# بُست

## علمي او څېړنیزه مجله


ټوک : دریم

ګڼه : دوهمه

کال : ۱۴۰۳

بسم الله الرحمن الرحيم

# بُست علمي او څېړنيزه مجله

**بُست پوهنتون**

**دريم ټوک – دوهمه ګڼه**

**کال – ۱۴۰۳**

# بُست علمی او څېړنیزه مجله

## بُست پوهنتون

**د امتیاز خاوند**: بُست پوهنتون

**مسئول مدیر:** ډاکټر ذبیح الله انوري

**سردبیران**: پوهندوی دوکتور علي احمد احمدي او خان محمد وفا

**د مجلې بورډ**

- پوهندوی دوکتور عبدالوهاب حکمت
- پوهندوی عبدالعزیز صابر
- پوهنمل حنیف الله باوري
- پوهاند دوکتور خال محمد احمدزی
- پوهندوی رضوان الله مملوال
- ارسلان وطندار
- پوهنیار بشیر احمد بابازوی

**کتنپلاوي**

- پوهنوال دوکتور احمد جاوید پویش
- پوهنوال نقیب الله مجددي
- پوهندوی دوکتور نجیب الله مجددي
- پوهندوی دوکتور علی احمد
- پوهندوی دوکتور غلام رسول فضلي
- پوهندوی نیاز محمد زاهدي
- پوهندوی ګل محمد اعظمي
- پوهندوی عبدالولي هجران
- پوهنیار عبدالولي همت
- خان محمد وفا
- ډاکټر ذبیح الله انوري

**ډیزاین**: د بُست پوهنتون د څېړنیزو او فرهنګي چارو مدیریت

د خپرولو کال: ۱۴۰۳

**درک**: بُست پوهنتون، لښکرګاه، هلمند، افغانستان

## د بُست پوهنتون د رئیس پیغام

په نني ژوند کې د یوې علمي مؤسسې یو له مسؤلیتونو څخه دا دی ، چې نه یواځې خپل محصلان د پوهې په ګاڼه سمبال کړي، بلکې د پوهنتون د لوړو زده کړو لرونکو پوهانو او استادانو د علمي زیرمتون څخه داسي څه وخت په وخت راوباسي، چې د ټولنې د ژوند د اړتیاوو د پوره کولو لپاره او یا لږ تر لږه د ټولنې د لوستي قشر د خبرولو او که وکولای شي له هغوی څخه د عمل په ډګر کې د ګټې اخیستنې په موخه ، په کار واچول شي.

و دې موخې ته د رسیدلو لپاره پوهنتون باید یو داسې علمي خپرندویه ارګان ولري، چې په هغه کې د پوهنتون ټول با صلاحیته منسوبین که هغه استاد وي، که کارکوونکی او که زده کړه یال ، خپلې علمي او څیړنیزي مقالې او لیکنې د کاغذ پر مخ باندې کښیښودلای شي.

زما په شخصي آند پدې مجله کې لکه له نوم څخه چې یې ښکاري، باید داسي مسائل را برسیره شي، چې نه یواځې په پوهنتون پورې راګیر پاتې شي، بلکې په عام ډول سره د افغاني ټولنې او په ځانګړي ډول سره د هلمند ولایت د اوسیدونکو و نني او سبا ژوند ته په کتلو سره، بریالیتونونه، ستونزې ، وړاندیزونه او د حل لارې-چارې ، وړاندې کړل شي.هغه وخت به د بُست پوهنتون علمي مجله یواځې د بست پوهنتون نه، بلکې د ټول هلمند ولایت ، آن د سیمي او ټول افغانستان په کچه د پوهې او څیړنې په برخه کې د وخت د غوښتنو سره سم ، د پاملرنې وړ او ځوان نسل ته د یوې سمې لارې د ښودلو په موخه ، یوه محبوبه او پر زیاتو خلکو باندې ګرانه مجله وي او په ټول هیواد کې به خپل مینه وال ولري.

دا مجله به د بُست پوهنتون د مشرتابه، استادانو ، محصلانو ، فارغانو او ټولو مینه د علمي او څیړنیزو مقالو د خپرولو لپاره که هغوی د پوهې په هر ډګر کې چې وي، یو خپرنیز ارګان وي،چې و خپریدلو ته به یې ټول مینه وال په تمه ناست وي.څومره به پرځای او ښه خبر وي، چې د ټولنې لوستی قشر په تیره بیا د بست پوهنتون محترم استادان ، فارغ شوي او بر حاله محصلان د علمي او څیړنیزو مقالو و لیکلو ته و هڅول شي.

زه د بُست پوهنتون د ټولو منسوبینو په استازیتوب ویاړ لرم ، چې د بُست پوهنتون د علمي مجلې د خپریدلو له امله د محترم مؤسس، محترم علمي مرستیال او د څیړنې له محترم آمر او همدا رنګه د مجلې له ټولو کارکوونکو او پرسونل څخه د زیار او زحمت په ګاللو سره چې مجله یې و خپریدلو ته چمتو کړې ده ، مننه او قدرداني وکړم، ټولو ته د زړه له کومې مبارکي وایم او هیله لرم چې د بُست پوهنتون د علمي مجلې کارکوونکي به خپل رسالت د پوهنتون او ټول هلمندې ولس او په اخری تحلیل کې د ټول افغان ملت پر وړاندې په پوره او ټینګ عزم سره سرته ورسوي.

**په درنښت**

**ډیپلوم انجنیر محمود سنګین**

**د بُست پوهنتون رئیس**

## سریزه

بُست پوهنتون ویاړ لري چې د خپل علمي پرمختګ په لاره کې یې یو بل ډېر مهم او اړین ګام پورته کړ او هغه د بُست د علمي او څېړنیزي مجلې د دریم ټوک، دوهمي ګڼې خپرېدل دي . تر هر څه دمخه د پوهنتون ټولو استادانو، محصلانو او د علم او پوهې د لوی کور مینه والو ته د بُست د علمي او څېړنیزي مجلې د خپرېدلو مبارکي وړاندې کوم او ددې سره جوخت د ټولو ملګرو څخه چې ددې مجلې د جواز په تر لاسه کولو، ترتیبولو او خپرولو کې یې نه ستړې کېدونکې ونډه اخیستې ده د زړه له کومي مننه کوم.

د علمي کور کهول او اړوند کسانو ته ښکاره ده  او پوره باور لري چې د نننی نړۍ هر اړخیزه پر مختګ د پوهانو د علمي څېړنو د زیار له برکته ممکن سوی او د لوړو زده کړو مؤسسې، اکادمیک انستیتوتونه او څېړنیز علمي مرکزونه پکښې مرکزي او پریکنده رول لوبولی دی.

همدې اصل او ارزښت ته په کتو سره بُست پوهنتون غواړي د پرمختللو اکاډمیکو نورمونو په رعایت د تدریس، علمیڅېړنو او نوښتونو له لاري مسلکي کادرونه وروزي  او د معیاري تحصیلي اسانتیاوو او زمینو په برابرولو سره د ټولنې ځوانانو ته معیاري او د لوړ کیفیت لوړې  زده کړې وړاندی او د علمیڅېړنو پر بنسټ د کره پوهنیزو اثارو د تولید زمینه برابره کړي ، ترڅو د لوړو زده کړو او مسلکي پوهې په ډګر کې د ګټورو مهارتونو په تر لاسه کولو او د خپلو رښتینو اهدافو په لاسته راوړلو سره د ټولنې او هیواد په پرمختګ او رغونه کې رغنده ونډه واخلي او د رښتیني خدمت جوګه شي.

ژمن یو چې د هلمند ولایت، ګاونډیو ولایتونو او په ټول هیواد کې ځوان نسل ته د اسلامي ، ملي او کلتوري ارزښتونو په رڼا کې معیاري د علمي او مسلکي لوړو زده کړو او پراخو علمي څېړونو زمینه برابره او ټولني او هیواد ته ژمن او روزل سوي کادرونه وړاندي کړو.

د اوس لپاره د بُست علمي او څېړنیزه مجله یوازي د **سائینسي علومو** په برخه کې علمي او څېړنیزي مقالي او لیکني د چاپ او نشر د تګلارې سره سم مني او خپروي او هیله مند یو چې په راتلونکې کې به نوري برخي هم ور زیاتي کړل سي.

ډاډ لرم چې د بُست پوهنتون استادان، محصلان او علمي کارمندان به انشاالله، نن، سبا او په راتلونکې کې د خپلي علمي څېړنیزي مجلې د خپرولو له لاری خپل دغه دروند خو  ویاړلی دین (پور) ادأ کړي. همدا ډول ټولو د علم او پوهي څښتنانو او مینه والو ته  په مینه سره بلنه ورکوو چې ددی علمي او څېړنیزي مجلې او د بُست پوهنتون د پرمختګ په لاره کې خپلې علمي او څېړنیزي لیکني، آندونه، وړاندیزونه او رغنده  نیوکې  او مرستې د تل په شان  راولوروۍ  او د علم  ددې ستر کور په ودانولو کې د خپلې دیني، او ملي برخې د اداینې ویاړ راوبخښی.

موږ هوډ کړیدې او هیله مند یو چې انشآ الله  د وخت په تیریدو سره به د خپل هیواد و بچیانو او ځوان نسل ته د تدریس ، ښه روزنې او څېړنیز هاند لپاره  اړینې او د پام وړاسانتیاوې برابري کړو تر څو په لومړي پړاو کښې خپلو هلمندوالو بیا د سهیل لویدیځې حوزې او په پای کښې و ټولو هیوادوالو ته د یو داسې چوپړ مصدر وګرځې چې زموږ د ځوریدلې اولس او ویجاړشوې هیواد اقتصادې، فرهنګې، سیاسي او ټولنیزې ستونزې حل او افغانستان د نړۍ د پرمختللوهیوادونو په لیکه کې ودریږي.

## لړلیک

| د مقالې عنوان | د صفحې شمیره |
| --- | --- |


د پلاستیک په واسطه د محیط ککړتیا او په لښکرګاه ښار کې د پلاستیکي کڅوړو د مصرف اندازه ------- 1

پوهندوی عبدالولي هجران[۱*]، حبیب الرحمن[۲]، بریالي[۳]، افتخار[۴]

د هلمند ولایت په مارجه ولسوالۍ کې د پنبې پر تولید د وچکالۍ اغېزې ------------------------------------- 7

پوهندوی دوکتور علي احمد[۱*] او ارسلان وطندار[۲]

Introduction to Farm Management and Its Importance -------------------------------------------- 16

Sayed Abdul Wahab Saeedi[1*] and Mir Wais Nazari[2]

په افغانستان کې مشهوره زهري نباتات او پر اهلي حیواناتو باندې د هغو منفي اغیزې -------------------- 28

محمدالدین خادم[۱*]، پوهنیار عبدالفهیم سروري[۲] او پوهنمل محمدآمان احمدزي[۳]

د لښکرګاه ښار په دوو کلیوو کاریز او قلعه بُست کې د انګورو پرتله کولو اقتصادي تحلیل کال (1403) ----- 38

پوهنوال نقیب الله مجددي[۱*]، ارسلان وطندار[۲]، پوهنیار بریالی رفیع[۳]

An Overview of Introduction, Importance and Types of Natural Resources -------------- 52

Dr. Mohammad Shafi Akhundzada[1*] and Mir Wais Nazari[2]

د هلمند ولایت په باباجي ولسوالۍ کې د ریحانو د تولید لګښت، ناخالصه ګټه، خالصه ګټه او مارکیټینګ چینلونو تحلیل ( کال ۱۴۰۲ ) --- 61

پوهندوي دوکتور علي احمد[۱*] او امان الله نیازی[۲]

د هلـــــمند ولایت په ناوې ولسوالۍ کې د پنبې د تولید اقتصادي تحلیل کال (۱۴۰۲) --------------- 71

میرویس نظري[۱*] او محمدالدین خادم[۲]

د سردار ګل محمد خان صنعتي پارک د ودې پر وړاندې خنډونه -------------------------------------- 80

ارسلان وطندار[۱*]، پوهندوی دوکتور علي احمد[۲]، عبدالقدیر خادم[۳]

د هلمند ولایت د اوبو د سپما طرحه -------------------------------------------------------------- 88

محمد یوسفي[۱*]، ګل احمد احمدي[۲]، فیض محمد فیضي[۳]، عبدالحنان اغا[۴]، شیراغا خپلواک[۵]، خیرالله مزمل[۶] او محمد اقبال[۷]

# د پلاستیک په واسطه د محیط ککړتیا او په لښکرګاه ښار کي د پلاستیکي کڅوړو د مصرف اندازه

پوهندوی عبدالولي هجران[۱*]، حبیب الرحمن[۲]، بریالي[۳]، افتخار[۴]

[۱]د اوبو منابع او چاپیریال څانګه، انجنیري پوهنځي، هلمند پوهنتون

[۲،۳،۴]د 1402-1403 تحصلي کال محصلان، څلورم ټولګي، سیول څانګه، انجنیري پوهنځي، هلمند پوهنتون

مسؤل ایمیل ادرس abdulwali.hmd@gmail.com

## لنډیز

پلاستیک په نړۍ کي د چاپېریال د ککړتیا له لویو ستونزو څخه ګڼل کیږي، ځکه د پلاستیکي موادو په ځانګړي ډول د پلاستیکي کڅوړو کارول د چاپېریال د ککړتیا په لویو سرچینو کي راځي. پلاستیک په طبیعي ډول په سلګونو کلونو کي تجزیه کیږي او په دې موده کي د خاورې، اوبو او هوا لپاره جدي خطرونه رامنځته کوي. دا څېړنه د افغانستان د هلمند ولایت په مرکز لښکرګاه ښار کي د پلاستیکي کڅوړو د ورځني مصرف اندازه په ۸ ناحیو کي ارزوي. د ۷۶۴۱ پلورنځیو له ډلي ۱۱۲ پلورنځي په تصادفي ډول په بیلابیلو ناحیو کي د پلاستیکي کڅوړو اړوند معلوماتو لپاره پوښتل سوي دي. پایلي ښیي چي هره ورځ په لښکرګاه ښار کي تقریباً ۱۴۰۰ کیلوګرامه پلاستیکي کڅوړې مصرفیږي، چي کلنۍ کچه یې ۵۱۷۶۲۰ کیلوګرامه ته رسیږي. د څېړني په ترخ کي ۷۴ سلنه پلورونکو د عامه پوهاوي لوړول د پلاستیکي کڅوړو د کاروني د کمولو غوره لاره وبلله او ۲۶ سلنه یې د پلاستیکي کڅوړو پر قیمت او مالیاتو پلي کول یو ګټور اقدام وباله. څېړنه همدا راز څرګندوي چي په لښکرګاه ښار کي د پلاستیکي کڅوړو د ککړتیا د مخنیوي په موخه کوم فعالیت نه دی ترسره سوی او د خلکو پوهاوی په دې برخه کي ډېر کم دی. د دې ستونزي د حل لپاره اړینه ده چي د عامه پوهاوي کچه لوړه سي، پر پلاستیکي کڅوړو مالیات وضع سي او خلک د بدیلو موادو کارولو ته وهڅول سي.

**کلیدي کلمې**: پلاستیک، پلاستیکي ککړتیا او چاپیریال.

## سریزه

په تېرو دوو لسیزو کې صنعت او ټکنالوژۍ په چټکۍ سره وده کړې ده، خو په ورته وخت کې د اقلیم بدلون د نړۍ په بیلابیلو برخو کې بې شمېره خلک زیانمن کړي دي. ویلای سو چې څومره چې نړۍ په صنعت او ټکنالوژۍ کې پرمختگ کوي، د انسانانو ژوند اسانه کیږي، خو هممهاله دا پرمختگ د ځمکي پر مخ د انسان ژوند له سختیو سره هم مخ کوي. د چاپیریال ککړتیا نن ورځ په نړیواله کچه د حکومتونو او علمي ادارو ترمنځ د مهمو بحثونو له ډلي څخه ده، څکه هر کال په نړۍ کي یو شمیر خلک د ککړ چاپیریال له امله د رامنځته سویو ناروغیو له کبله خپل ژوند له لاسه ورکوي. د چاپیریال د ککړتیا بحث عموماً په دوو برخو ویشل کیږي: لومړی، څنگه کولای سو ککړ چاپیریال پاک کړو، تر څو ژوند اسانه سي؟ دویم، څنگه د چاپیریال د لا زیاتي ککړتیا مخنیوی وکړو؟ د ورځني ژوند په بیلابیلو برخو کي صنعتي توکي کارول کیږي چي د چاپیریال د ککړتیا لامل گرځي، خو دا توکي په منظمه توگه د پلان له مخي کنټرول کیدای هم سي. پلاستیک یو له هغو موادو څخه دی چي په پراخه کچه د مختلفو موخو لپاره کارول کیږي، خو کله چي استعمال سي او چاپیریال ته راووځي، په مضرو ککړونکو موادو کي شمېرل کیږي. پلاستیک اوږدمهاله ژوند لري او د چاپیریال، اوبو سیستمونو او انساني روغتیا لپاره جدي گواښونه رامنځته کوي، نو له همدې امله پلاستیکي ککړتیا اوس یوه نړیواله ستونزه گڼل کیږي.

د پلاستیک په لویه کچه د دوام او پراخه کاروني له امله تقریباً د چاپیریال په هر ځای کې سته. په ایکوسیستم کې په عمده ډول د ناکافي تصفیې او ضایعاتو ضعیف مدیریت له امله هرکال په ملیونونه ټنه پلاستیکي کثافات د ایکوسیستم ته ننوځي. له 1950 مو کلونو راهیسي 8.3 ملیارد میټریک ټنه پلاستیک تولید سوی دی. د دې پلاستیک ضایعات تقریباً 79 سلنه یې یا د څځلو په ډول ترځمکي لاندي او یا په طبعي چاپیریال کي جمعه سوي دي(Gayer et al., 2017). په طبیعي چاپیریال کي د پلاستیکونو تخریب په ځانگړي توگه د سمندري ایکوسیستم لخوا د مایکروپلاستیک د خپریدو سبب کیږي چي دکوچني ذرې اندازه یې د 5 ملي مترو څخه کمه. د پلاستیک دا کوچني ذرې نږدې اوس د نړۍ په ټول چاپیریال کي موندل کیږي( Thompson et al., 2004). مایکروپلاستیکونه تقریباً ټولو ژوندیو موجوداتو ته گواښ دی، له پلانکټون څخه نیولې تر لوی سمندري تیلو لرونکي حیواناتو پوري. څکه چي دوی ډېری وختونه د خوړو په څیر ښکاري او په غلطي سره د حیواناتو لخوا خوړل کیږي. که

یوځل وخوړل سي پلاستیک کولای سي د فزیکي زیان لامل سي، لکه د هاضمي سیستم د بندیدل او هم کولای سي د زهرجن کیمیاوي توکو په څیر عمل وکړي (Rochman et al., 2013) . د پلاستیکو د تولید او تصفیه کول هم د چاپیریال په ککړتیا کي مهم رول لري. څکه د پلاستیک د تولید په وخت کي د شنو خونو گازونه او د غیر عضوي مرکبونه په څیر څیني ککړتیا وي ازادیږي چي ټول د هوا په ککړتیا او د اقلیم د بدلون کي مهم رول لري (Azoulay et al., 2019).

د اوبو سیستمونه، په ځانگړي توگه بحرونه د پلاستیک ککړتیا څخه ډیر زیان منونکي دي. شاوخوا 8 ملیونه میټریک ټنه پلاستیکي کثافات هر کال سمندرونو ته رسیږي کوم چي د سمندري حیواناتو ژوند له خطر سره مخ کوي او د ایکو سیستم یې گډوډ کوي ( Jambeck et al., 2015). د تازه اوبو سیستمونو کي هم د مایکروپلاستیک شتون هم مستند سوی. مایکروپلاستیکونه اوس په سیندونو، جهیلونو او حتی د ځمکي لاندي کي هم کشف سوي دي. په عمده توگه په هغو اوبو کي زیات لیدل سوي چي د ښاري ساحو، صنعتي فعالیتونو، او کرهنیزو کړنو څخه په لاس راځي(Eerkes-Medrano et al., 2015). څیړني موندلې د ککړو اوبو هغه تصفیه خوني کوم چي د لوی ککړتیا د فلتر کولو لپاره ډیزاین سوي دي هم نسي کولای چي د مایکروپلاستیک زات فلتر کړي، نو څکه دغه زرات له تصفیې څخه تیریږي سیندونو او بحرونو ته ځان رسوي(Browne et al., 2011). پلاستیکي ککړتیا د انسانانو روغیتا ته هم د پام وړ مستقیم او غیر مستقیم روغتیایي خطر رامنځ ته کولای سي. انسانانو ته پلاستیکي ککړتیا له مختلفو لارو رسیږي لکه، د ککړو خواړو او اوبو د مصرف څخه، د هوا د تنفس له لاري او هم په مستقیم ډول د پلاستیکي توکو سره د تماس پواسطه(Prata et al., 2020). د مایکرو پلاستیک مصرف د خواړو او یا هم د اوبو له لاري، داسي اندیښنې راپورته کړي چي دا ذرات کولای سي د انسان جسمي او نسجي فعالیتو د گډوډۍ سبب سي. د پلاستیک ککړتیا سره تړلي یو له لومړني روغتیا خطرونو څخه د پلاستیکي توکو څخه د زهرجن کیمیاوي موادو خارجیدل دي. څکه پلاستیک زیات کیمیاوي مرکبات لري لکه، فتالیت، بسپنول او فلم ردیټر کوم چي له پلاستیکي تولیداتو څخه چاپیریال ته ازادیږي(Halden, 2010). دا کیمیاوي توکي د انډوکراین یا وړو غدو د تخریب کونکو په نوم پیژندل کیږي، کوم چي په انسانانو او څارویو کي د هورمونو په فعالیت کي مداخله کولای سي، چي د بل مثل د تولید، تکثر ستونزي او نور روغتیایي اختلالات را منځ ته کوي (Jambeck et al., 2015). دا چي پلاستیک په افغانستان کي هم په

پراخه کچه کارول کیږي، نو موږ په دې څېړنه کې هڅه کړې چې د پلاستیک په زیانو له بحث څخه ورسته د قضیې څېړني په توګه د هلمند ولایت غوره کړو، چي پکښې معلوم کړو، څومره پلاستیک په ورځنیو چارو کې استفاده کوي.

## 1-1 د څېړني پوښتنه:

په منځني ډول څومره پلاستیک کڅوړي په لښکرګاه ښار کي هر کال په مصرف رسیږي؟ ایا کولای سو د پلاستیک کڅوړو مصرف راکم کړو او کنه؟

## 1-2 د څېړني موخې:

ددې سروې موخه دا ده چي وڅېړو څومره خلک په هلمند ولایت، لښکرګاه ښار کې پلاستیکي کڅوړي کاروي، څومره خلک د پلاستیک زیانونو په اړه پوهاوی لري، د دولت له خوا د پلاستیک زیانونو په اړه خلکو ته څومره عامه پوهاوی ورکړل سوی دی، د پلاستیک کاروني د کمولو په اړه د خلکو نظر څه دی او په ښار کې د پلاستیک د مصرف اندازه معلومه کړو.

# مواد او کړنلاره

## 2-1 څېړني ساحه:

هلمند د افغانستان په سویل لویدیځ کې پروت ولایت دی، چې له کندهار، روزګان، دایکندي، غور، فراه او نیمروز ولایتونو سره ګډه پوله لري. د دې ولایت مرکز لښکرګاه ښار دی، چې له مساحت له مخې د افغانستان تر ټولو لوی ولایت ګڼل کیږي. هلمند ۱۷ ولسوالی لري او ډېری اوسېدونکي يې په کرنه او مالداری بوخت دي. لښکرګاه ښار په ۱۶ ناحیو وېشل سوی، چي له دې څخه ۸ فعالي ناحیې د پلاستیکي کڅوړو د ورځني مصرف د ارزوني لپاره د څېړني ساحه ټاکل سوي. د څېړني لپاره غوره سوي ناحیې په ۱ شکل کي ښودل سوي دي.




شکل 1: د لښکرګاه ښار هغه 8 ناحیې چي څېړنه پکښې تر سره سوې ده

## 2-2 څېړنیز ډیزاین:

د دې څېړني لپاره د سروې میتود کارول سوی چي د پلاستیکي کڅوړو د ورځني مصرف اندازه، د پلاستیک زیانونو په اړه د خلکو پوهاوی او د کاروني د کموالي لپاره د خلکو نظریات ارزوي. څېړنه په تصادفي ډول د لښکرګاه په ۸ ناحیو کې ترسره سوې، چي د ښاروالی له معلوماتو سره سم، په دغو ناحیو کې ۷۶۴۱ پلورنځي فعالیت کوي. د نمونې په توګه، د هر ناحیې د پلورنځیو مجموعي شمېر ته په کتو ۱۱۲ پلورنځي په تصادفي ډول غوره سوي دي څنګه چې په 1 جدول کې لیدل کیږي.

## 2-3 څېړني مواد او معلومات راټولونه:

د پلاستیک اړوند هر اړخیزو معلوماتو (لکه د مصرف اندازه، د زیانونو په اړه د خلکو پوهاوي کچه، د مخنیوي لاري چاري) د راټولولو لپاره یوه پوښتنپاڼه جوړه سوې چي ۹ بیلابیلي پوښتني لري. دا پوښتنپاڼه له ۱۱۲ کسانو څخه ډکه سوې، چي تصادفي ډول غوره سوي پلورونکي شامل وو. په دې کې ۵۲ سلنه لوی پلورنځي (لکه سوپرمارکیټونه او ګودامونه)، ۲۷ سلنه د سړک غاړې پلورنځي (کراچۍوال او واړه پلورنځي) او ۲۱ سلنه درملتونونه شامل وو.

## 2-4 احصایوي تحلیل:

په دې څېړنه کې توصیفي احصایه (Descriptive Statistics) کارول سوې، چي د معلوماتو عمومي ځانګړني او رجحانات څرګندوي، څو د پلاستیکي کڅوړو د ورځني او کلني مصرف اندازه، د خلکو پوهاوي کچه، او د پلورونکو نظرونه د سلني او شمېرو په بڼه وړاندې سي. راټول سوي معلومات په Excel کې تنظیم او تحلیل سوي او توصیفي احصایه د اوسط، سلنه، او تکراري شمیرې په بڼه محاسبه سوې ده.

| شمیره | ناحیه | د دوکانونو شمیر | د سروی شوو دوکانونو شمیر |
|---|---|---|---|
| 1 | ناحیه1 | 1701 | 20 |
| 2 | ناحیه2 | 2398 | 30 |
| 3 | ناحیه3 | 518 | 10 |
| 4 | ناحیه4 | 1103 | 15 |
| 5 | ناحیه5 | 1220 | 18 |
| 6 | ناحیه6 | 118 | 6 |
| 7 | ناحیه7 | 109 | 6 |
| 8 | ناحیه8 | 474 | 7 |

جدول 1: په 8 مربوطه ناحیو کي د پلورنځیو شمیر

# نتیجه او مناقشه

په دې بحث کې د پلاستیکي کڅوړو د کاروني ستونزه په لښکرګاه ښار کې له څو اړخونو څخه څېړل کیږي او د موضوع ژوره ارزونه په دې ټکي راڅرخي چي که څه هم د رخت کڅوړي د پلاستیکي کڅوړو ښه بدیل بلل کیږي، خو لا هم په عملي توګه ډېری پلورونکي له پلاستیکي

کڅوړو څخه کار اخلي. د څېړنې پایلې ښيي چې په لښکرګاه کې هره ورځ په اوسط ډول ۱۴۰۰ کیلوګرامه پلاستیکي کڅوړې په استعمال رسيږي او کلنۍ اندازه يې نږدې ۵۱۷۶۲۰ کیلوګرامه ده څنګه چې په ۲ جدول کې لیدل کیږي. دا کچه د یو واړه ښار لپاره خورا زیاته ده او د دې پلاستیکي کڅافا تو شاوخوا ۸۰ سلنه بیرته طبیعت ته داخلیږي. د چاپیریال لپاره د پلاستیکي کڅوړو زیان خورا جدي دی. دا مواد په طبیعت کې په سلګونو کلونه وخت نیسي تر څو تجزیه سي او په دې موده کې دوی د خاورې، اوبو او حتی د ژویو روغتیا ته زیان رسوي. پلاستیکي کڅوړې په ښارونو کې د فاضله موادو یوه لویه برخه جوړوي چې د سیندونو او کانالونو بندیدو لامل ګرځي او د سیلابونو او نورو چاپیریالي ستونزو د رامنځته کیدو سبب کیږي. په لښکرګاه کې هر کال د پلاستیکي کڅوړو تولیدي مقدار د دې ستونزو د رامنځ ته کولو لپاره کافي دی. که د دې ستونزې مخنیوی ونه سي، نو راتلونکې کې د ښار او شاوخوا سیمو د چاپیریال حالت نور هم خرابیدای سي.

د څېړنې په پایله کې معلومه سوه چې په لښکر ګاه ښار کې تر اوسه هیڅ حکومتي او غیر حکومتي اداري د پلاستیکي کڅوړو د زیانونو په اړه خلکو ته پوهاوي نه دی ورکړي. د ۱۱۲ پوښتل سوي پلورونکو څخه هیڅ یو داسې پلورنکی نه و چې د پلاستیکي کڅوړو د زیانونو په اړه يې کوم رسمي معلومات ترلاسه کړي وي. دا حالت د عامه پوهاوي د نشتون څرګندونه کوي او له همدې امله خلک په بې پروايي سره پلاستیکي کڅوړې کاروي، پرته له دې چې د هغوی چاپیریالي اغیزې درک کړي.

| شمیره | په اوني کې د پلاستیک د استعمال اندازه | سروې سوي پلورنځي | د سلنې له رویه د پلورنځیو شمیر | په مجموعي ډول په اوني کې د مصرف کیدونکو پلاستیکو اندازه په کیلو ګرام |
|---|---|---|---|---|
| 1 | کم له 1 کیلو | 45 | 3070 | 1535 |
| 2 | د 1- 2 کیلو پورې | 56 | 3821 | 5732.5 |
| 3 | له 2-3 کیلو پورې | 8 | 545 | 1635 |
| 4 | اضافه له 4 کیلو | 3 | 205 | 1025 |
| 5 | مجموعه | 112 | 7641 | 9927.5 |

**جدول 2: په اوني کې د مصرف کیدونکو پلاستیکو د مصرف اندازه**

له پوښتل سوي 41 سلنه پلورنکي د پلاستیک کڅوړ په واسطه چاپیریال ته د زیان رسولو اړوند هیڅ هم نه پوهیدل، دا حالت د یوې جدي ستونزې نښه ده، ځکه چې د یوه داسي توکي د کاروني په اړه بې خبري چې په نړۍ کي په پراخه کچه د چاپیریال ککړتیا سبب ګرځي. دا حالت په هلمند کې د چاپیریال د ستونزو پر وړاندې مبارزه کمزوري کوي. د نړۍ په نورو برخو کې پلاستیکي کڅوړې او نور پلاستیکي تولیدات د سختو قوانینو او کنټرلرو لاندې راغلي دي. په ځینو هیوادونو کې پلاستیکي کڅوړې په بشپړ ډول منع سوې دي او په نورو کې يې تولید او کارونه د سختو قوانینو لاندې راغلي دي، خو په افغانستان کې په ځانګړې توګه په لښکرګاه کې لا هم د دې برخې په اړه هیڅ قوانین او پالیسي نسته.

د دې ستونزې د حل لپاره بېلابېل وړاندیزونه سوي دي. د څېړنې په ترڅ کې ۷۴ سلنه پلورونکي په دې باور وو چې د عامه پوهاوي لوړول یوه غوره لاره ده چې خلک د پلاستیکي کڅوړو له زیانونو څخه خبر کړي او هغوی دې ته وهڅوي چې له دې موادو څخه په خپله خوښه لاس واخلي. دا وړاندیز په دې خاطر اهمیت لري چې د عامه پوهاوي پروسه د هري ټولنې د بدلون بنسټ ګڼل کیږي. که خلکو ته دا پوهه ورکړل سي چې پلاستیک څومره زیان رسونکی دی، نو هغوی به پخپله د بدیلو موادو، لکه د رخت کڅوړو او نورو پایدارو موادو کارولو ته مخه کړي. عامه پوهاوی نه یوازې د افرادو چلند بدلوي، بلکې د ټولنې په کچه د یو ګډ چلند د رامنځته کولو لپاره هم خورا اغیزمن دی.

یو بل وړاندیز چې د پلاستیکي کڅوړو کارول کمولای سي، د دوی قیمت لوړول او پرې مالیات پلي کول دي. ۲۶ سلنه پلورونکو په دې باور وو چې که د پلاستیکي کڅوړو قیمت لوړ سي، نو خلک به مجبوره سي چې د رخت یا نورو بدیلو موادو کڅوړې وکاروي. څېړنې ښيي چې کله تقاضا کونکي د پلاستیکي کڅوړو لپاره د پیسو ورکولو ته اړېسي، د دوی تقاضا کمیږي او مجبوره کیږي چې پر ځاي يې نوري کڅوړې وکاروي(He, 2012). دا طریقه د آیرلنډ په څېر هیوادونو کې په بریالیتوب سره عملي سوې ده، چیرې چې د پلاستیکي کڅوړې استعمال یکښې تر 90 سلنه کم سوی دی (Convery et al., 2007).

دا ښيي چې که حکومت جدي اقدامات ترسره کړي او د پلاستیکي کڅوړو پر کارونه مالیات وضع کړي، نو د چاپیریال د ککړتیا کچه به د پام وړ کمه سي. په ټوله کې په لښکرګاه او نورو سیمو کې اړینه ده چې د پلاستیکي کڅوړو کاروني په وړاندې جدي اقدامات ترسره سي. د حکومت او غیر حکومتي ادارو رول په دې برخه کې ډېر مهم دی، ځکه

دوی کولی سي د قوانینو او کړنلارو په جوړولو، عامه پوهاوي لوړولو او د بدیلو موادو د کاروني د هڅولو له لاري د چاپیریالي ستونزو مخنیوی وکړي. د چاپیریال ساتنه د یو اوږدمهاله پلان او گډي هڅي غوښتنه کوي او که د پلاستیکي کڅوړو کاروني په وړاندي جدي اقدامات ترسره سي، نو په راتلونکي کي به لښکرگاه او نژدې سیمي د چاپیریال له جدي ستونزو وساتل سي.

## پایله

په پایله کي دا څېړنه څرگندوي چي په لښکرگاه کي د پلاستیکي کڅوړو کارونه یوه جدي ستونزه ده چي د چاپیریال لپاره خورا زیانمني اغیزې لري. هر کال په زرگونه کیلوگرامه پلاستیک طبیعت ته داخلیږي او د فاضله موادو د راټولولو او پاکولو لپاره هیڅ هڅي نه ترسره کیږي. د حکومتي او غیر حکومتي ادارو له لوري د عامه پوهاوي نشتون او د خلکو بې خبري د ستونزي د پراختیا یو لوی عامل دی. په داسي حال کي چي د نړۍ په پرمختللو هیوادونو کي د پلاستیکي کڅوړو پر ضد سخت قوانین او کړنلاري عملي سوي دي. په افغانستان کي لا هم دې ستونزي ته کافي پاملرنه نه ده سوې.

د حل لپاره وړاندیزونه لکه د عامه پوهاوي لوړول او په پلاستیکي کڅوړو مالیات وضع کول، گټوري حل لاري دي چي د پلاستیک کارونه په تدریجي ډول کمه کړي. د خلکو د پوهي لوړول به دوی وهڅوي چي بدیلو موادو ته مخه کړي او د چاپیریال لپاره زیانمنو پلاستیکي کڅوړو کارول بند کړي. همدارنگه د مالیاتو زیاتول او د پلاستیکي کڅوړو قیمت لوړول به د دې موادو تقاضا کمه کړي، لکه څنگه چي په نورو هیوادونو کي دا تگلاري بریالۍ سوي دي.

په ټوله کي د پلاستیکي کڅوړو د ککړتیا ستونزه د یوه ملي او محلي پلان غوښتنه کوي. اړینه ده چي حکومت او د چاپیریال ساتني ادارې په گډه لاس په کار سي. قوانین او پالیسۍ وضع کړي او د چاپیریالي ستونزو د مخنیوي لپاره جدي گامونه پورته کړي. که دې ستونزي ته په خپل وخت رسیده گي وسي، نو لښکرگاه او نوري سیمي به له چاپیریالي زیانونو څخه وساتل سي او د راتلونکي نسل لپاره به یو پاک او روغ چاپیریال پاتي سي.

## اخځلیکونه


1. Convery, F., McDonnell, S., & Ferreira, S. (2007). The most popular tax in Europe? Lessons from the Irish plastic bags levy. *Environmental and Resource Economics*, 38(1), 1-11.
2. He, H. (2012). Effects of environmental policy on consumption: Lessons from the Chinese plastic bag regulation. *Environment and Development Economics*, 17(4), 407-431.
3. Azoulay, D., Villa, P., Weiss, D., Gold, M., Schuh, W., & Bell, Z. (2019). *Plastic & Health: The Hidden Costs of a Plastic Planet*. Center for International Environmental Law (CIEL).
4. Browne, M. A., Crump, P., Niven, S. J., Teuten, E., Tonkin, A., Galloway, T., & Thompson, R. (2011). Accumulation of microplastic on shorelines worldwide: Sources and sinks. *Environmental Science & Technology*, 45(21), 9175-9179.
5. Eerkes-Medrano, D., Thompson, R. C., & Aldridge, D. C. (2015). Microplastics in freshwater systems: A review of the emerging threats, identification of knowledge gaps and prioritisation of research needs. *Water Research*, 75, 63-82.
6. Geyer, R., Jambeck, J. R., & Law, K. L. (2017). Production, use, and fate of all plastics ever made. *Science Advances*, 3(7), e1700782.
7. Halden, R. U. (2010). Plastics and health risks. *Annual Review of Public Health*, 31, 179-194.
8. Jambeck, J. R., Geyer, R., Wilcox, C., Siegler, T. R., Perryman, M., Andrady, A., Narayan, R., & Law, K. L. (2015). Plastic waste inputs from land into the ocean. *Science*, 347(6223), 768-771.
9. Prata, J. C., da Costa, J. P., Lopes, I., Duarte, A. C., & Rocha-Santos, T. (2020). Environmental exposure to microplastics: An overview on possible human health effects. *Science of the Total Environment*, 702, 134455.
10. Rochman, C. M., Hoh, E., Hentschel, B. T., & Kaye, S. (2013). Long-term field measurements of sorption of organic contaminants to five types of plastic pellets: Implications for plastic marine debris. *Environmental Science & Technology*, 47(3), 1646-1654.
11. Thompson, R. C., Olsen, Y., Mitchell, R. P., Davis, A., Rowland, S. J., John, A. W., ... & Russell, A. E. (2004). Lost at sea: Where is all the plastic? Science, 304(5672), 838-838.

# Plastic Pollution and the Consumption of Plastic Bags in Lashkar Gah City

Abdul Wali Hejran[1*], Habib Rahman[2], Baryalai[3], Iftekhar[4]

[1]Assistant Professor, Water Resources Department, Engineering Faculty, Helmand University

[2,3,4]Students of the 1402-1403 Academic Year, Fourth Class, Civil Department, Engineering Faculty, Helmand University

Corresponding Author Email: Abdulwali.hmd@gmail.com

## Abstract

Plastic is considered one of the significant environmental pollution problems globally. Plastic materials, especially plastic bags, are recognized as a significant source of environmental pollution. Plastic takes hundreds of years to decompose naturally, posing severe risks to soil, water, and air. This study investigates the daily consumption of plastic bags in 8 districts of Lashkar Gah city, the center of Helmand province, Afghanistan. Out of 7641 vendors in these districts, 112 vendors were randomly surveyed for comprehensive information about plastic bags. The results indicate that approximately 1400 kilograms of plastic bags are used daily in Lashkar Gah, amounting to an annual total of 517,620 kilograms. The study found that 74% of vendors identified increasing public awareness as the best method to reduce plastic bag use. In comparison, 26% saw raising the price and imposing taxes on plastic bags as a beneficial suggestion. The research also revealed that no significant activities related to plastic pollution have been conducted in Lashkar Gah, and the level of public awareness in this regard was found to be relatively low. Increasing public awareness, imposing taxes on plastic bag usage, and encouraging alternative materials are considered necessary measures to address this issue.

**Keywords:** Plastic, Plastic pollution and Environment

# BOST

Academic & Research National Journal

Volume: 3

Issue: 2

Year: 2025